# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**24 قوس _سال 1401**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** — **صفحه**


**وزیر امور مهاجرین، با معاون سفیر ایران ملاقات نمود ---------------------------------------------------------------- 1**

**تفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین و دو موسسه امضا شد------------------------------------------ 2**

**یک هزار خانواده در بامیان کمک شد ------------------------------------------------------------------------------- 3**

**بیش ازدو هزار تن مهاجر افغان به وطن برگشت نمود --------------------------------------------------------------- 4**

**انګلیس کانال: څلور کډوال ډوب شوي او ۴۳ تنه نور ژغورل شوي دي------------------------------------------- 5**

**بریتانیې د البانیې سره د مهاجرت نوی تړون لاسلیک کړ------------------------------------------------------------ 7**

**د مهاجرت نړیوال سازمان: په افریقایي صحرا کي ۲۷ مهاجر له تندي مړه شوي دي ---------------------------------- 9**

# متن کامل اخبار

## وزیر امور مهاجرین، با معاون سفیر ایران ملاقات نمود

ویب سایت وزارت



**الحاج خلیل الرحمن حقا ن ی وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، با معاون سفیر ایران، مقیم کابل، در دفتر کارش ملا قات نمود.**

**در این دیدار، در رابطه به وضعیت مهاجرین افغان، در ایران تبادل نظر صورت گرفت و وزیر امور مهاجرین، باقدر دانی ازجمهوری اسلامی ایران، بخاطر میزبانی مهاجرین افغان در آن کشور، تقاضای فراهم آوری سهولتهای بیشتر را در عرصه تعلیم، صحت، آب آشامیدنی و سایر نیاز مندیهای اولیه برای آنها نمود.**

**وی علاوه نمود که با تحکیم نظام اسلامی در افغانستان، امنیت در کشور تامین و با فساد و قاچاق و مواد مخدر، مبارزه جدی صورت گرفت، که این همه به نفع کشور های همسایه ومنطقه نیز می باشد.**

**حقا ن ی، از کشور ایران وسایر همسایه ها تقاضا نمود که با درنظر داشت تغیر و تحول مثبتی که درافغانستان بمیان آمده است، در تحکیم روابط حسنه و نزدیکی ملت ها، بیشتر از پیش بکوشند.**

**آقای مرتضوی، معاون سفیر ایران، با یاد آوری ازسهو لتهای فراهم شده برای مهاجرین افغان در آن کشور، از ادامه همکاری با افغانستان و عرضه ای خدمات بهتر و بیشتر برای مهاجرین وعده داد و بر روابط دوستانه میان دو کشور تاکید نمود.**

## تفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین و دو موسسه امضا شد

ویب سایت وزارت




**دو تفاهم نامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان و موسسات NRC وIRC، به تاریخ 23 قوس به امضا رسید.**

**با اساس تفاهم نامه های یاد شده موسسه IRC به ارزش مجموعی ۲ میلیون ۹۲۴ هزارو ۳۲۵ دالر امریکایی، کمک غذایی وپول نقد را در ولایات هلمند ، بادغیس و بامیان برای یک هزارو 550 خانواده آسیب دیده از جنگ وخشکسالی ، و موسسه NRC به ارزش یک میلیون 313 هزارو 536 دالر امریکایی کمک نقدی را برای 3 هزارو 800 خانواده در ولایات کابل ، پکتیکا ، بادغیس ، کاپیسا ،زابل و ارزگان به توزیع می نماید.**

**تفاهم نامه های یاد شده توسط شیخ عبدالرحمن رحمانی ریس هماهنگی مساعدت ها وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان و مسوولین موسسات یاد شده به امضا رسید**

## یک هزار خانواده در بامیان کمک شد

ویب سایت وزارت




**آمریت امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت بامیان از مساعدت نقدی و سولر برای یک هزارخانواده بیجاشده و عودت کننده مرکز و ولسوالی ها درآن ولایت بتاریخ 23 قوس خبرداد.**

**به گفته منبع این مساعدت برای هریک از 512 خانواده مبلغ 80 دالر امریکایی از جانب موسسه رفاه اسلامی و به 489 خانواده دیگر دو تخته سولر 300 وات همراه با وسایل آن و مبلغ 100 دالر امریکایی جهت پرداخت کرایه از جانب دفتر UNHCR بودکه درمرکز بامیان با حضور نماینده های نهاد های یادشده توزیع شد.**

## بیش ازدو هزار تن مهاجر افغان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




**دو هزارو 321 تن مهاجر افغان مقیم ایران، از طریق پل ابریشم، به تاریخ های 21 و22 قوس به ولایت نیمروز برگشتند.**

**به اساس معلو مات ریس امورمهاجرین ولایت نیمروز افراد مذکور 45 خانواده ، شامل 160 تن و 2161 تن مجرد بودند و ازآن میان 38 خانواده شامل 63 مرد و 74 زن و همچنان 593 تن مجرد غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شده اند.**

## انګلیس کانال: څلور کډوال ډوب شوي او ۴۳ تنه نور ژغورل شوي دي

مهاجرنيوز



نن چهارشنبه سهار وختي د فرانسې او برېتانيا ترمنځ اوبو کې د کډوالو د يوې کښتۍ د ډوبېدو له کبله لږترلږه ۴ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. په ورته مهال چارواکي د ۴۳ تنو نورو د ژغورلو خبر ورکوي .

انګلیس کانال کې غمجنه پېښه. د فرانسې او برېتانيا سمندري ځواکونو نن چهارشنبه سهار وختي انګلیس کانال کې د کډوالو لېږدوونکې کښتۍ د ژغورلو لپاره یو لړ عملیات ترسره کړل، خو په دې و نه توانېدل چې ټول سپرلي يې وژغوري.

د رسنيو د راپورونو له مخې په دغه پېښه کې لږترلږه څلور کډوال ډوب شوي دي. چارواکي وايي چې ۴۳ تنه نور يې د انګليس کانال له يخو اوبو څخه ژغورلي دي. تر اوسه د يادو کډوالو هويت نه دی څرګند.

**Four dead in the Channel.**

**— Simon Jones (@SimonJonesNews) December 14, 2022**

لږ مخکې برېتانوي رسنيو ويلي وو چې د ژغورل شويو ۴۳ کډوالو له ډلې څخه ۳۰ تنه يې اوبو ته غورځېدلي وو.

د برېټانیا د کورنیو چارو وزیرې سویلا بریورمن په وینا دغه سمندري زون کې د نورو کډوالو د لټون هڅې ادامه لري.

د برېټانیا د امبولانس خدماتو ویلي دي چې ساحلي څواکونو د شپې په ۴ نیمو بجو ورسره اړیکه نیولې او د دنجنس ساحلي اوبو کې یې د کډوالو د یوې کښتۍ په اړه اطلاع ورکړې چې سمندر کې له ستونزو سره مخ شوې وه.

همدارنګه د برېټانیا حکومت یو ویاند ویلي دي چې برېټانوي چارواکو ته د لندن په وخت د شپې په ۳ بجو او ۴۰ دقیقو د یادې کښتۍ په اړه اطلاع ورکړل شوه. چارواکو د کډوالو د ژغورلو لپاره کښتۍ او الوتکې کارولې دي.

بل پلو د فرانسې د مانش او شمالي سمندر قومندانۍ پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي دي چې د دوور سمندري مرکز سره په همغږۍ د کډوالو د ژغورلو عملیاتو کې برخه اخیستې ده.

بیا ولولئ :<u>انګلیس کانال: یوه شپه کې څه باندې ۱۳۰ کډوال ژغورل شوي دي</u>

**[#Opérationdesauvetage] Le patrouilleur des Garde-côtes des douanes FR, Kermorvan, est également mis à disposition du MRCC Douvres (UK) #coastguard en renfort des moyens déjà déployés sur zone. pic.twitter.com/5UcQzGdfpo**

**— Préfecture maritime Manche et mer du Nord (@premarmanche) December 14, 2022**

په ورته مهال یوتوپیا ۵۶ سازمان د فرانسې خبري اژانس سره خبرو کې ویلي دي چې د شپې په ۲ بجو او ۵۳ دقیقو یې د مهاجرو له خوا یو غږیز پیغام ترلاسه کړی دی. دغه سازمان ویلي دي چې کډوالو د کښتۍ لوکېشن هم ور لیږلی و چې د فرانسې په اوبو کې یې موقعیت درلود.

د توپیا ۵۶ مسول نیکولا پوسنر ویلي دي» :د فرانسې ساحلي ځواکونو د شپې په ۳ بجو او ۴۰ دقیقو موږ ته وویل چې برېټانوي چارواکي به د دغو کډوالو د ژغورنې عملیات ترسره کړي». هغه زیاته کړې چې د کال په دې موسم کې په سمندر کې د بدن د تودوخې درجې د راټیټېدو او د مرګ خطر شته.

دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د نومبر میاشتې په ۲۴مه انګلیس کانال کې د یوې د کښتۍ د ډوبېدو له کبله د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۷ کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړ. لوموند ورځپاڼې د نومبر میاشتې په نیمایي کې د یو راپور په خپرولو سره ولیکل چې په دغه کښتۍ کې سپرو کډوالو بیا بیا هڅه کړې وه چې له فرانسوي ژغورونکو سره اړیکه ونیسي، خو چا ورسره مرسته نه وه کړې.

**د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري د لادرکه شویو کډوالو پروژې د شمېرو له مخې له ۲۰۱۴ راهیسې لږترلږه ۲۰۵ کډوال انګلیس کانال ډوب او یا لادرکه شوي دي .**

## بریتانیې د البانیې سره د مهاجرت نوی تړون لاسلیک کړ

مهاجرنیوز




**د بریتانیې حکومت د البانیې سره د مهاجرت په تړاو د یو نوي تړون اعلان کړی دی. په وینا یې دغه تړون به د ناقانونه مهاجرت د مخنیوي لپاره وي.**

**بریتانیه د البانیې همکاري غواړي چې د مانش کانال پر لاري ورته د ناقانونه مهاجرت مخه ونیولای شي. د بریتانیې حکومت په تېرې تړاو اعلان وکړ چې د البانیې سره د مهاجرت په تړاو پر یو تړون توافق ته رسېدلی دی. لومړي وزیر ریشي سینک د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۲ کال د دسامبر ۱۳ نېټه) په لندن کې و پارلمان ته د وینا پر وخت له «یو نوي طرز» څخه خبره وکړه. د هغه په وینا دغه نوی طرز دا دی چې د البانیې په هوایي ډګر تیرانه کې به بریتانوي سرحدساتونکي چارواکي هم مؤظف کړل شي.**

**د سینک په وینا به بریتانوي چارواکي به «د سازماندهي شوي جرایمو» په مخنیوي کې مرسته وکړي او هغه کسان چې ناقانونه و بریتانیې ته ورځي د هغوی مخه ونیسي. بریتانوي لومړي وزیر وویل سرکال چې کوم کسان د کښتیو په مرسته**

بريتانيي ته راغلي دي، ورڅخه دريمه برخه يې البانيان دي چې تقريبا ۱۳۰۰۰ کسان کيږي. د هغه په وينا د نوي تړون له مخې به دغه کسان سمدلاسه بېرته البانيې ته لېږل کيږي.

د بريتانيي حکومتي مشر ووېل چې البانيا يو خوندي او د سمورتيا پر لاره روان اروپايي هيواد دی. هغه زياته کړه چې د البانيا لومړي وزير ايدي روما هم ورته ډاډ ورکړی دی چې هيڅ لامل نه ويني چې ولې الباني پناه غوښتونکي بېرته خپل هيواد ته ونه لېږي .

سينک دې ته هم اشاره وکړه چې آلمان، فرانسه او سوېډن هم د البانانو له پناه غوښتنو څخه ۱۰۰ سلنه يې ردي کړي دي. د هغه په وينا خو په بريتانيه کې د هغوی د ردېدنې فيصدي ۴۵ ده. د هغه په وينا دا وضعيت پر خای نور نشي پاته کېدلای .هغه ووېل چې د دغه حکومت او په همدې شان د تيرانا په هوايي ډګر کې مؤظف چارواکي به په ښکاره توګه پناه غوښتونکو ته واضحه کړي چې البانيا يو خوندي هيواد دی. د بريتانيي حکومت د مانش کانال له لاري د ورتلونکو مهاجرو د زيات شمېر له کبله تر فشار لاندي دی. له سينک څخه مخکې د بوريس جانسن او د ليز تروس حکومتونو هم د مهاجرت په برخه کې د سختو قوانينو د عملي کولو اعلانونه کړي ول.

د کال له پيل راهيسي تقريبا ۴۵ زره مهاجر په کښتيو کې د مانش کانال له لاري بريتانيي ته اوښتي دي. په ۲۰۲۱ کال تر ۲۵۸۰۰ څخه زيات انسانان پر دغه لار بريتانيي ته تللي ول. د مهاجرو دغه جګ شمېر ښيي چې بريتانوی حکومت په خپل شخړيز تړون کې نه دی بريالی شوی. لندن د رواندا سره پر دې توافق ته رسېلی وو چې په ناقانونه توګه ورته راغلي مهاجر به دغه افريقايي هيواد ته لېږي. خو تر اوسه پوري دا ډول يو اخراج نه دی عملي کړل شوی. په جون مياشت کې و رواندا ته پلان شوی د اخراج يو پرواز د هغه وروسته وځنډول شو چې د بشري حقونو د محکمې له خوا يې مخالفت وشو. سېنک ژمنه کړې چې د مخکني لومړي وزير بوريس جانسن ياد پلان به عملي کوي.

## د مهاجرت نړیوال سازمان: په افریقایي صحرا کي ۲۷ مهاجر له تندي مړه شوي دي

مهاجرنیوز




**د ملګرو ملتونو د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ویلي دي چي د افریقا په صحرا کي ۲۷ مهاجر له تندي مړه شوي دي.**

**د مهاجرت د نړیوال سازمان (IOM) په وینا د افریقا په لویه صحرا کي د ۲۷ داسي مهاجرو مړي موندل شوي دي چي په ۲۰۲۱ کال دوبي کي یې د شمال پر لور حرکت کړی وو. یاد سازمان دا خبر د سه شنبې په ورځ (د ۲۰۲۲ کال د دسامبر ۱۳ نېټه) په ژینیف کي ورکړ.**

**د یاد سازمان په وینا یاد شمېر کسان د تندي له لاسه مړه شوي دي. زیاته شوې چي په دغو کي د څلورو ماشومانو مړي هم شامل دي.**

**د آلمان د خبري آژانس د خبر له مخي آی او ایم ویلي دي چي دغه انسانان تقریبا ۱۷ میاشتي مخکي د چاد له هیواد څخه ښایي د لیبیا پر لور په یو کوچني لاری موټر کي روان شوي ول او ښایي لاره یې ورکه کړې وي او یا یې موټر خراب شوی وي. دغه انسانان بېله مرستي په صحرا کي پاته ول تر څو هلته ساه ورکړي .**

**د آی او ایم په وینا له ۲۰۱۴ کال راهیسي تر ۵۶۰۰ څخه زیات مهاجر د صحرا پر لاري مړه شوي یا لادرکه شوي دي. زیاته شوې چي سږکال ۱۴۹ مړیني ثبت شوي دي .ویل کیږي چي پر دغه مسیر اکثره مړیني له سره ثبتیږي نه. د دغو**

مهاجرو کورنۍ په کالونو کالونو د خپلو کورنۍ د غړو له احوال او برخلیک څخه بې خبره او په انتظار پاته وي. هغوی نه وي خبر چي د کورنیو سره یې څه شوي دي .

آی او ایم د دې لپاره مبارزه کوي چي د هغو انسانانو لباره د مهاجرت قانوني لاري برابري کړي چي په نورو هیوادونو کي د بهتر راتلونکي به تلاښ وي.

خبرنامه